MACMILLAN CANCER SUPPORT

End of life: Pashto

# د ژوند پای

دغه معلومات په دې هکله دي چې د ژوند د پای ته رسېدو په طرف څه پېښېږي او دا چې څنګه پلان ورته جوړ کړو.

ټول هغه توري چې <u>د لاندې يې کرښه ايستل شوې ده</u> په پای کې د تورو په لېست کې تشريح شوي دي. د تورو په لېست کې دا هم څرګنده شوې چې په انګليسی کې به دغه کلمات څنګه وايئ.

دغه معلوماتي پاڼه تاسو ته په دې هکله معلومات درکوي چې څوک کولای شي په کور کې او په نورو هغو ځايونو کې چې تاسو ممکن هلته د ژوند د پای مراقبت ترلاسه کړئ، له تاسو څخه پالنه وکړي. تاسو ته دا تشريح کوي چې د خپل ژوند د پای په وروستيو اونيو کې بايد څه تمه ولرئ. همدارنګه ستاسو د خپلوانو او نږدې ملګرو لپاره په دې هکله معلومات لري چې ستاسو له مړينې وروسته بايد څه وکړي. تاسې ممکن وغواړئ دغه برخه هم ولولئ.

ښايي د ځينو دغو معلوماتو لوستل خفه کوونکي وي. تاسو ممکن له خپل نږدې خپلوان، ملګري يا روغتيايي متخصص څخه هم وغواړئ چې دغه معلومات ولولي، نو تاسو کولای شئ په ګډه د دغو معلوماتو په اړه بحث وکړئ.

که تاسو د دې معلوماتو په اړه څه پوښتنې لرئ، په کوم روغتون کې چې ستاسو درملنه کيږي، هلته د خپل ډاکټر يا نرس څخه پوښتنه وکړئ.

تاسو همدارنګه کولای شئ د Macmillan د سرطان له ملاتړ سره د **0808 808 00 00** وړيا تلفوني شمېرې له لارې 7 ورځې په اونۍ کې، د سهار له 8 بجو څخه د ماښام تر 8 بجو پورې اړيکه ونيسئ. موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. کله چې تاسو موږ ته زنګ وهئ، په مهربانۍ سره موږ ته ووایاست چې کومې ژبې ته اړتيا لرئ.

د سرطان په اړه په نورو ژبو کې ډېر معلومات په **macmillan.org.uk/translations** کې شتون لري

## دا معلومات د لاندې مواردو په هکله دي:

- تاسو به څنګه احساس ولرئ
- له مخکې پلان جوړول
- د مړينې د ځای انتخاب
- له خپلو نږدې خلکو سره د خپلوی اړيکه
- روحي، مذهبي يا روحاني ملاتړ
- د ژوند وروستی څو اونی
- د ژوند وروستی څو ورځې
- مړينې ته نږدېتوب
- له مړينې وروسته
- د مهمو سازمانونو د اړيکو معلومات
- Macmillan څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي
- د تورو ليست
- ستاسو په ژبه کې نور معلومات
- حوالې او مننه

## تاسو به څنګه احساس ولرئ

په دې پوهېدل چې تاسو مړيني ته نږدې شوي یاست کېدی شي ډېر ستونزمن وي. په دې باندې باور کول ممکن ډېر سخت وي، حتی که چېرې تاسو پوهېږئ هم چې ناروغي مو مخ په خرابېدو ده. تاسو ښايي احساس وکړئ چې دا حالت نامناسب دی. تاسو ښايي ژړوغوني او خفه شئ. تاسسو ښايي په دې پوه نشئ چې څنګه له دغو احساساتو سره مبارزه وکړئ. او تاسو ښايي اندېښنه وکړئ چې نور به څه کېږي.

ځيني خلکو ته آسانه وي چې په دې هکله خبرې وکړي چې دوی څنګه احساس لري. تاسو کولای شئ له خپلې کورنۍ يا ملګرو، يا له خپل ډاکټر يا نرس سره خبرې وکړئ. يا تاسو کولای شئ د **0808 808 00 00** تلفوني شمېرې له لاې د Macmillan د سرطان ملاتړ له کوم متخصص سره خبرې وکړئ. موږ ستاسو لپاره ترجمانان هم لرو.

## له مخکې پلان جوړول

له مخکې پلان جوړول کېدی شي ډېر ګټور وي او په هغو ورځو کې چې تاسو ښه یاست وخت مو ښه تېر شي. تاسو ښايي وغواړئ داسې پلان جوړ کړئ چې د خپلې کورنۍ او ملګرو سره ځيني ښه کارونه وکړئ، يا فقط له هغوی سره وخت تېر کړئ.

ځيني مهم شيان شته چې تاسو ښايي وغواړئ له مړيني مخکې يې په اړه فکر وکړئ. دا شيان په لاندې ډول دي:

- وصيت کول
- د خپلې جنازې لپاره پلان جوړول
- د دې پلان جوړول چې له تاسو بايد چېرې مراقبت وشي.

دا ممکن ګټور وي چې تاسو په دې هکله له خپلې کورنۍ او خپل ډاکټر يا متخصص نرس سره خبرې وکړئ.

### د وصيت ليکل

وصيتنامه يو قانوني سند دی چې لارښوونه کوي تاسو غواړئ له مړينې وروسته خپلې پيسې او اړونده توکي چا ته ورکړئ. وصيتنامه کې ښايي د لاندې موارداو په هکله لارښووني هم شاملې وي:

- تاسو غواړئ څوک ستاسو له ماشوم يا له هغه چا څخه چې په تاسو باندې متکي دی (نږدې خپل) مراقبت وکړي
- د جنازې خاصې تابياوې چې تاسو يې غواړئ.

دا مهمه ده چې وصيتنامه وليکئ. غوره وخت چې له <u>وکيل</u> څخه بايد استفاده وشي د وصيت د ليکلو وخت دی. هغوی به ډاډ حاصل کړي چې هرڅوک پوهېږي تاسو څه غواړئ چې ترسره شي. که تاسو د وکيل په موندلو کې مرستې ته اړتيا لرئ، تاسو کولای شئ د قانون له ټولنې سره اړيکه ټينګه کړئ (د مهمو سازمانونو لبست وروسته په دغو معلوماتو کې وګورئ).

**ستاسو د مراقبت لپاره ستاسو هیلې**
تاسو کولای شئ له خلکو سره د خپلو هیلو او هغو شیانو په هکله خبرې وکړئ چې ستاسو لپاره مهم دي. دا مهمه ده چې معمولاً د پلان جوړلو لپاره له کاغذ څخه استفاده وکړئ او د خپل مراقبت لپاره خپلې هیلې ولیکئ. تاسو کولای شئ د دې په هکله چې د ناروغۍ په صورت کې څنګه او چیرې غواړې چې پالنه مو وشي هر ډول مشخصې هیلې ولیکئ.

تاسو همدارنګه کولای شئ د هر هغه درملني په هکله خپلې هیلې ولیکئ چې نه غواړئ په راتلونکي کې یې ترلاسه کړئ. دې ته په انګلستان، ویلز او شمالي آیرلنډ کې ' د درملني د رد لپاره له مخکې چمتو شوې پریکړه' او په سکاټلنډ کې 'له مخکې تیاره شوې لارښوونه' وایي.

که تاسو ناروغ یاست او نشئ کولای د خپل ځان لپاره پریکړه وکړئ، تاسو کولای شئ له بل چا څخه د مرستې غوښتنه وکړئ چې ستاسو لپاره پریکړه وکړئ. دا بل چا ته د صلاحیت د ورکړې په نامه یادیږي.

ستاسو د روغتیایي مراقبت ټیم کولای شي په دې هکله ډېر معلومات درکړي.

**د خپلې جنازې لپاره پلان جوړول**
تاسو ښایي وغواړئ د خپلې جنازې لپاره پلان جوړ کړئ. تاسو کولای شئ د لاندې موارادو په هکله فکر وکړئ:

- تاسو غواړئ دفن شئ یا وسوځول شئ
- کوم ډول خدمات غواړئ
- کومه سندره غواړئ
- د شاور اخیستو یا تشناب د تګ لپاره د مرستې وسایل

تاسو ښایي وغواړئ په دې هکله له خپلې کورنۍ او ملګرو سره خبرې وکړئ. هغوی هم ښایي د خدای پامانۍ په څېر ښې هیلې ولري چې کولای شي له دوی سره مرسته وکړي. که داسې کوم څه شتون لري چې باید ستاسو په جنازه کې ترسره شي، ویې لیکئ ترڅو خلک وربانديې پوه شي.

## د مړینې د ځای انتخاب

د دې انتخاب چې تاسو به چیرته مړه کیږئ، په لاندې مواردو پورې اړه لري:

- تاسو څه غواړئ
- تاسو له خپلې کورنۍ او ملګرو څخه څه مرسته لرئ
- په هغه ځای کې چې ژوند کوئ موجود خدمات
- ستاسو صحی وضعیت.

له تاسو څخه کیدی شي په مختلفو ځایونو کې پالنه وشي.

ستاسو وضعیت ته په پام، کېدی شي په لاندې برخو کې ستاسو پالنه وشي:

- **په کور** – د کورنۍ له نږدې غړي یا ملګرو سره چې ستاسو مراقبت وکړي. د روغتیاپالني بېلابېل متخصصین شتون لري چې کولای شي له تاسو او ستاسو له پالونکو څخه په کور کې ملاتړ وکړي او مرسته درسره وکړي چې خپلې نښې نښانې مدیریت کړئ.
- **په روغتون کې** –داسې یو ځای دی چې د هغو خلکو پالنه پکې کېږي چې په وروستیو ناروغیو اخته وي او کېدی شي د ژوند وروستیو شېبو ته نږدې شوي وي.
- **په مسکوني کور یا له نرسنګ سره د پالنې په کور کې**– معمولاً د لنډې یا اوږدې د پالنې خدمات وړاندې کوي. ستاسو عمومي ډاکټر یا د روغتیایي مراقبت ټیم کولای شي د مراقبت د کورونو بېلابېل ډولونه درته معرفي کړي.
- **په روغتون کې** – چې د تسکیني مراقبت داسې ټیمونه لري چې د هر ډول نښو نښانو د مدیریت په برخه کې مرسته کولای شي او همدارنګه عاطفي ملاتړ چمتو کوي.

**په کور کې د مړینې انتخاب**

که له تاسو څخه په کور کې مراقبت کېږي تاسو بنایي اضافي مرستې ته اړتیا ولرئ. د روغتیایي او ټولنیز مراقبت داسې متخصصین شتون لري چې کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي:

**ستاسو عمومي ډاکټر**

کله چې تاسو په کور کې یاست، ستاسو عمومي ډاکټر ستاسو د مراقبت مسئول دی. هغوی کولای شي مرسته وکړي که چېرې تاسو:

- په خپلو نښو نښانو کې د بدلون په اړه اندېښنه لرئ
- غواړئ د راتلونکي او هغو شیانو په هکله چې بنایي پېښ شي خبرې وکړئ
- په کور کې د نرسنګ د مراقبت یا بل ډول مرستې د ترلاسه کولو په هکله مشورې ته اړتیا لرئ.

**د ناحیې نرس**

د ناحیې نرساني به په کور کې تاسو وویني. هغوی له عمومي ډاکټرانو سره له نږدې څخه کار کوي او ډېری وختونه د تسکیني مراقبت له نرسانو سره هم کار کوي ترڅو ستاسو او ستاسو له مراقبینو سره مرسته وکړي چې په کور کې پاتې شئ. هغوی کولای شي:

- تاسو ته درمل درکړي او جامې مو درته بدلې کړي
- مرسته درسره کوي چې هوسا واوسئ او د اړتیا په صورت کې تجهیزات درته چمتو کوي
- له تاسو څخه د مراقبت په هکله ستاسو خپلوانو یا پالونکو ته مشورې درکوي
- له نورو هغو خلکو سره چې کولای شي مرسته وکړي اړیکه نیسي، لکه ټولنیز کارمندان یا متخصصې نرسانې
- له تاسو سره مرسته کوي له خپلو احساساتو سره مبارزه وکړئ.

**د تسکیني مراقبت ټیمونه**

د تسکیني مراقبت ټیمونه د هغو خلکو لپاره مراقبت وړاندې کوي چې د ژوند وروستیو شېبو ته نږدې شوي دي. هغوی کولای شي د درد په شمول د نښو نښانو په برخه کې مرسته وکړي، او کولای شي عاطفي ملاتړ چمتو کړي. همدارنګه کولای شي د اړونده کس کورنۍ او ملګرو ته ملاتړ چمتو کړي.

**د Marie Curie نرساني**

د Marie Curie نرساني په کور کې له هغه چا څخه پالنه کوي چې د ژوند وروستیو شېبو ته نږدې شوي وي. هغوی کولای شي د شپې له خوا د نرسنگ مراقبت وړاندې کړي. دا به ستاسو پالونکو ته اجازه ورکړي چې دمه وکړي یا د شپې ښه خوب وکړي.

ستاسو د ناحیې نرس یا عمومي ډاکټر کولای شي ستاسو لپاره د Marie Curie نرس چمتو کړي.

**ټولنیز کارمندان**

ټولنیز کارمندان کولای شي د شخصي مراقبت په برخه کې مرسته وکړي، لکه مینځل او جامې آغوستل، د کور کار او نور عملي کارونه. تاسو، ستاسو ډاکټر یا نرس کولای شي د دغې مرستې لپاره له ټولنیز کارمند سره اړیکه ونیسي. تاسو معمولاً باید خپل مالي وضعیت ته په پام سره، د شخصي مراقبت لګښتونه تادیه کړئ. اما تاسو کولای شئ د مراقبت د ترلاسه کولو لپاره د اضافه مالي مرسته د ترلاسه کولو غوښتنه وکړئ.

**مسلکي تېراپیسټان**

مسلکي تېراپیسټان کېدی شي ستاسو کور ته درشي او کېدی شي ستاسو لپاره د اړتیا وړ تجهیزات چمتو کړي. په دې کې ښایي لاندې شیان شامل وي:

- رېل چې له تاسو سره د کور په شاوخوا کې په ګرځېدو کې مرسته کوي
- د شاور اخیستو یا تشناب ته د تګ لپاره د مرستې وسایل
- څرخکي څوکۍ

**ستاسو ډاکټر یا نرس کولای شي ټول ذکر شوي پاسني خدمات تاسو ته چمتو کړي. هغوی به همدارنګه ستاسو په سیمه کې د بل موجود خدمت په هکله تاسو ته ووایي.**

**د مړیني لپاره د آسایشګاه، روغتون یا د مراقبت د کور ټاکل**

که ستاسو لپاره دا امکان ونلري چې په کور کې پالنه درڅخه وشي، تاسو کولای شئ هر چېرې چې مراقبت ترلاسه کوئ د تسکیني مراقبت له ټیم څخه مرسته او ملاتړ ترلاسه کړئ.

- **د ټولنیې د تسکیني مراقبت ټیمونه** په ټولنه کې تآسیس شوي دي. هغوی ډېری کله له آسایشګاه سره کار کوي او کولای شي له تاسو څخه لیدنه وکړي که چېرې تاسو د مراقبت په کور کې یاست.
- **د آسایشګاه د تسکیني مراقبت ټیمونه** له هغو خلکو څخه مراقبت کوي چې په آسایشګاه کې دي. هغوی همدارنګه کولای شي له خلکو څخه په خپلو کورونو کې لیدنه وکړي.
- **د روغتون د تسکیني مراقبت ټیمونه** معمولاً په روغتون کې تاسیس شوي دي. له هغو خلکو څخه مراقبت کوي چې په روغتونونو کې دي.

## له خپلو نږدې خلکو سره د خپلوۍ اړیکه

ستاسو د ژوند ملګری، کورنۍ او ملګري کولای شي ستاسو لپاره ملاتړ او بیا ډاډګیرنه چمتو کړي ترڅو له تاسو سره مرسته وکړي چې له هغه څه سره چې پېښېږي مبارزه وکړئ. په هر صورت، وروستۍ ناروغۍ ځینې وختونه اړیکې ستونزمنوي. ځینې وختونه مرسته کوي چې له یو بل سره په دې هکله خبرې وکړو چې څنګه احساس لرو. یا ستاسو لپاره ښایي دا آسانه شي چې له خپل عمومي ډاکټر، د ټولنې له نرس، یا هغه سازمان سره خبرې وکړئ چې عاطفي ملاتړ چمتو کوي (د مهمو سازمانونو لېست وروسته په دغو معلوماتو کې وګورئ). ستاسو عمومي ډاکټر ښایي تاسو یوه مشاور ته راجع کړي ترڅو په دې هکله خبرې وکړئ چې څنګه احساس لرئ.

## روحي، مذهبي یا روحاني ملاتړ

ځیني خلک ښایي وغواړي د خپل ژوند په وروستیو وختونو کې د مذهبي عقایدو یا روحي احساساتو په هکله ځان ډېر پوه کړئ. حتی که تاسو ډاډه نه یاست چې باور مو څه دی، دا به غوره وي چې له یوه مذهبي مشر یا مشاور سره خبرې وکړئ. هغوی ښایي وکولای شئ تاسو ته مذهبي یا روحي تسکین درکړي او له تاسو سره مرسته وکړي چې په خپل شته وضعیت کې د آرامی احساس ولرئ.

آسایشګاوې معمولاً د ټولو عقایدو یا بې عقیدو خلکو ته روحي ملاتړ چمتو کوي. تاسو ښایي له داسې چا سره خبرې کولو ته ترجیح ورکړئ چې مذهبي نه وي. د انسان پالني مراقبت (www.humanist.org.uk) داسې داوطلبان لري چې کولای شي غیر مذهبي روحاني ملاتړ چمتو کړي.

## د ژوند وروستۍ څو اونۍ

د ژوند څو وروستیو اونیو په جریان کې، تاسو ښایي ځیني لاندې بدلونونه مشاهده کړئ.

### عاطفي بدلونونه

دا طبیعي ده چې مختلف عواطف احساس کړئ، لکه تشویش، وېره یا د ژوند په وروستیو څو اونیو کې غوسه.

له خپلې کورنۍ یا د روغتیایي مراقبت په ټیم کې له کوم چا سره خبرې ښایي مرسته وکړي. ځیني خلک غواړي له داسې چا سره خبرې وکړي چې دوی یې نه پېژني، لکه مشاور. ستاسو ډاکټر یا نرس کولای شي دا ستاسو لپاره تنظیم کړي.

ځیني خلک خفه او انزواطلبه کېږي. تاسو ښایي ونه غواړئ د هغه څه په هکله خبرې وکړئ چې پېښېږي. لږ اړیکې ساتل او په فکرونو باندې وخت تېرول د رواني لحاظه مرګ ته چمتووالی دی.

### ستړیا

د لږې انرژۍ لرل عام دي. تاسو ښایي د هغو کارونو د ترسره کولو لپاره مرستې ته اړتیا ولرئ چې معمولاً یې د خپل ځان لپاره ترسره کوئ. تاسو ښایي ومومئ چې د ورځې په جریان کې استراحت ته ډېره اړتیا لرئ. په هغو کارونو کې چې ستړې کوي مو مرسته وغواړئ، لکه مینځل او جامې اغوستل. که خوړل درته ستړي کوونکي وي، کوښښ وکړئ لږ مقدار ډېر ځله وخورئ پر ځای د دې چې بشپړ خوراک کوئ.

### د خوب ستونزې

ځیني خلک د شپې له خوا سم خوب نشي کولای. د دې لپاره ډېر دلایل کېدی شي شتون ولري. ښایي تاسو تشویش ولرئ یا ښایي نښې نښاني مو ځوروي. ځیني درمل کولای شي ویښ مو وساتي. که سم خوب نه کوئ خپل ډاکټر یا نرس ته وواياست.

داسې شیان شته چې په ترسره کولو سره به یې ستاسو خوب ښه شي:

- په اطاق کې د رڼا او غالمغال کمول او ډاډ حاصول چې اطاق مو نه ډېر ګرم او نه ډېر سوړ دی
- که ستاسو توشکه ناآرمه کوونکې وي له خپلې نرس څخه د بلې توشکې په هکله د مشورې غوښتنه وکړئ
- له خوب څخه مخکې ګرم څښاک وکړئ اما له کېفینو او الکولو څخه ډډه وکړئ
- لږ تر لږه مخکې له دې چې ویده شئ، د سکرین لرونکو وسایلو له استفادې څخه ډډه وکړئ، لکه ځیرک مبایل، تبلېټ یا تلویزیون
- که تاسو د شپې په جریان کې ویښېږئ، ټول هغه شیان چې په اړه یې اندېښنه لرئ یا غواړئ ترسره یې کړئ ولیکلئ
- له آرام سې ډي یا ډي وي ډي څخه استفاده وکړئ، یا آراموونکې موسیقي واورئ.

**که دغه شیان له تاسو سره مرسته نه کوي، ستاسو ډاکټر یا نرس ښايي تاسو ته بل وړاندیز ولري، د داسې درملو خوړول چې خوب دربانديې راولي.**

**درد**
ډېری خلک د خپلې ناروغی په خرابېدو سره د درد په هکله اندېښنه لري. که درد لرئ نو خپل ډاکټر یا نرس ته وواياست. هغوی کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي او ښايي د اړتیا په صورت کې تاسو ته درد وژونکی درمل درکړي

د دردوژونکو درملو بېلابېل ډولونه شتون لري. ستاسو ډاکټر یا نرس به پرېکړه وکړي چې کوم یو ستاسو لپاره غوره دی.

**همیشه د خپل ډاکټر لارښوونې تعقیب کړئ چې تاسو کله باید درد وژونکې درمل وکاروئ. ډېری دا ډول درمل هغه وخت ښه نتیجه ورکوي چې د ورځې په جریان کې په منظمو وختونو استفاده شي.**

تاسو معمولاً درد وژونکي درمل د تابلېټونو، مایع درملو یا کڅوړو په توګه لرئ چې په پوستکي باندې سرېښېږي. که تاسو نشئ کولای خواړه تېر کړئ یا ناروغ یاستئ، نورې لارې هم شتون لري چې درد وژونکي درمل وکاروئ. ستاسو ډاکټر یا نرس کولی شي تاسو ته پدې اړه ډېر معلومات درکړي.

**د درد وژونکو درملو جانبي عوارض**
د درد وژني قوي درمل کولای شي د نیم ویده والي، ناروغی او قبضیت سبب وګرځي. نیم ویده والی معمولاً له څو ورځو وروسته ښه کېږي. که تاسو د ناروغی احساس کوئ، کولای شئ د مرستې لپاره د ناروغی ضد درمل وکاروئ. ناروغي معمولاً په څو ورځو کې بهبود مومي. قبضیت عام دی. ډېری هغه خلک چې قوي درد وژونکي درمل کاروي همدارنګه باید د لکسېټیوز (laxative) په نامه درمل هم وکاروي. ستاسو ډاکټر یا نرس کولی شي پدې اړه ډېر معلومات درکړي.

**د درد د کمولو نورې لارې چارې**
ښايي نورې لارې چارې هم شتون ولري چې وکولای شي له تاسو سره د درد په کمولو کې مرسته وکړي:

- له هرې ځانګړې وسیلې څخه چې تاسو ته درکړل شوې ده استفاده وکړئ. د بېلګې په توګه، تاسو کولای شئ په څوکیو باندې د فشار کمولو له بالښت څخه استفاده وکړئ ترڅو یو هوسا موقعیت ومومئ چې ورباندې کښېنئ یا وغځېږئ.
- د ژورې ساه اخیستنې یا مثبت فکر کولو په څېر د هوساینې له تخنیکونو څخه استفاده وکړئ.
- کوښښ وکړئ خپل پام موسیقی ته په غوږ نیولو یا د فلم په کتلو سره بلې خوا ته واړوئ.

ستاسو ډاکټر یا نرس کولای شي تاسو ته د درد د کمولو نورې لارې چارې هم وښيي.

**ناروغه کېدل یا د ناروغی احساس لرل**
ستاسو ناروغي، یا ستاسو درمل، ښايي تاسو ته د ناروغی احساس درکړي (کانګې) یا مو ناروغه کړي (استفراق). په دې صورت کې، ستاسو ډاکټر یا نرس به د مرستې لپاره تاسو ته د ناروغی ضد درمل درکړي. دا مهمه ده چې له دې درمل څخه هره ورځ په منظم ډول استفاده وکړئ ترڅو د ناروغی د بېرته راګرځېدو مخنیوی وکړي. تاسو کولای شئ د ناروغی ضد له درمل څخه هم د تابلېت په شکل او هم د مایع په شکل استفاده وکړئ. که د خوړو په تېرولو کې ستونزه لرئ، کولای شئ بل ډول استفاده څنې وکړئ، د بېلګې په توګه د تزریق په ډول. ستاسو ډاکټر یا نرس به تاسو ته په دې اړه نور معلومات درکړي.

که تاسو د ناروغۍ احساس کوئ، هغه شیان چې کولای شي مرسته درسره وکړي په لاندې ډول دي:

- د زنجبل له چای، بیر یا بیسکېټو څخه استفاده کول
- د ګازلرونکو څښاک توکو څښل
- لږ مقدار خواړه ډېر ځله خوړل پر ځای د دې چې بشپړ خوراک وخورئ
- د وچو خوړو خوړل، لکه بې بورې بسکېټ
- د ګرمو خوړو پر ځای، د ملایمو یا یخو خوړو خوړل
- له بل چا څخه غوښتنه کول چې خواړه درته چمتو کړي.

**د وزن یا اشتها له لاسه ورکول**

تاسو ښایي وزن له لاسه ورکړئ، حتی که ښه خوراک هم کوئ. دا کېدی شي ځوروونکي وي.

کوښښ وکړئ ډېر ځله لږ لږ خوراک کوئ او هر ځل خوړو ته نږدې مختصر خوراک کوئ. د سټریوډ په نوم درمل هم ځیني وختونه کولای شي د اشتها په بهبود کې مرسته وکړي. که دغه درمل ګټور وي، ستاسو ډاکټر ښایي ستاسو لپاره یې تجویز کړي.

ستاسو بدن په دې وخت کې ډېرې انرژۍ ته اړتیا نه لري. کله چې تاسو د خپل ژوند په وروستیو وختونو کې یاست، دا ستونزمنه ده چې ستاسو بدن دې وکولای شي خواړه هضم کړي. نو په زور په ځان باندې خوراک مه کوئ ځکه چې دا کولای شي تاسو ته د ناسلامتیا احساس درکړي. ستاسو کورنۍ او ملګري کېدی شي د تشویش او خپګان احساس وکړي ځکه چې تاسو نور د لوږې احساس نه کوئ او له خوړو خوند نه اخلئ. د هغه څه په اړه چې تاسو غواړئ ویې خورئ یا یې وڅښئ هغوی ته وواياست.

**قبضیت**

ډېری خلک قبضیت کېږي. دا ځکه چې هغوی شاوخوا حرکت نه کوي او ډېر خوراک او څښاک هم نه کوي. د قوي درد وژونکو درملو په څېر درمل هم قبضیت پیدا کوي. که تاسو دغه مشکل لرئ، نو خپل ډاکټر یا نرس ته وواياست. هغوی ښایي تاسو ته د مرستې لپاره د لګزېټیف په نامه درمل درکړي. ځان ډاډه کړئ چې په کافي اندازه مایعات وڅښئ. که کولای شئ، د لوړې کچې فایبر لرونکي خواړه له مېوې، سبزیجاتو، قهوه یي وریژو، وچې ډوډۍ او پاستا سره وخورئ.

**د نفس تنګۍ احساس**

نفس تنګي کېدی شي ډاروونکي وي. که نفس تنګي لرئ یا له معمول څخه ډېره د نفس تنګي درته پیدا کېږي، په دې هکله خپل ډاکټر یا نرس ته وواياست. مختلف شیان کولای شي دې ته په پام سره مرسته وکړي چې نفس تنګي له څه شي پیدا شوې ده.

ستاسو نرس کولای شي تاسو او ستاسو پالونکي ته هغه غوره ځای وښیي چې تاسو باید هلته کښېنئ یا ولاړ شئ ترڅو له خپل نفس سره مرسته وکړئ. د مینځلو او جامو اغوستلو په څېر کارونه په ناستې ترسره کړئ. که تاسو د نفس تنګۍ احساس کوئ، له یوې یخې بادپکې څخه استفاده وکړئ چې مخ ته مو یخه هوا باد کړي یا یوې پرانیستې کړکۍ ته کښېنئ. که تاسو غواړئ پرته له دې چې ودرېږئ په بل اطاق کې له چا سره خبرې وکړئ، کولای شئ له مبایل تلفون څخه استفاده وکړئ. د اړتیا په صورت کې به ستاسو عمومي ډاکټر یا نرس د تاسو لپاره په کور کې د اوکسیجن ترتیبات ونیسي.

ستاسو ډاکټر ښایي تاسو ته د ساه اخیستنې د مرستې لپاره درمل درکړي. ستاسو نرس یا فزیوتراپیسټ کولای شي د هوسا کېدو لارې چارې درته وښیي، ترڅو تاسو د لږ تشویش احساس وکړئ. که تشویش د نفس تنګۍ سبب شوی وي یا یې تنفس لا خراب کړی وي، په دې صورت کې د تشویش کمول کولای شي له تاسو سره په ساه اخیستو کې مرسته وکړي.

**د خولې ستونزې**

ستاسو خوله ښايي وچه وي يا زخمي شي او يا هم عفونت پيدا کړي. ځيني درمل کولای شي دغه ستونزې لا خرابې کړي. که تاسو د خولې ستونزې لرئ خپلې نرس يا ډاکټر ته ووایاست ترڅو هغوی يې درملنه وکړي.

خپلې خولې ته پاملرنه کول ډېر مهم دي او دا به له تاسو سره مرسته وکړي چې د خولې د ستونزو مخنيوی وکړئ. دا له تاسو سره د خولې په پاک ساتلو کې مرسته کوي. د غاښو له فلورايډ کريمو څخه په استفادې سره په ورځ کې دوه ځله خپل غاښونه پرېمينځئ. که مو خوله زخمي وي، د ماشومانو د غاښونو له نرم بورس څخه استفاده وکړئ. که ستاسو ډاکټر تاسو ته خولې مينځونکی درکړی، د استفادې لارښوونې يې تعقيب کړئ.

دا به له تاسو سره د قهوې، الکولو يا سګرټ څکولو په مخنيوي کې مرسته وکړئ، ځکه چې دا شيان کولای شي ستاسو خوله زخمي کړي. که مو خوله زخمي وي، ګاز دارې يا ليمو لرونکې اوبه وڅښئ، د يخ ټيوبونه وڅټئ، يا له بورې پرته ژاولې وژوئ.

**د ستونزمنو ښو ښانو مديريت**

ستاسو ښې ښاني ډېری وخت په کور کې تداوي کېدی شي. اما ځيني وختونه تاسو ښايي اړ شئ خپلې ښې ښاني په آسايشګاه يا روغتون کې تداوي کړئ. ستاسو نرس يا ډاکټر به په دې هکله له تاسو سره خبرې وکړي. کله چې تاسو ته يو څه ښه احساس پيدا شي، تاسو د معمول په څېر کولای شئ بيا کور ته لاړ شئ.

# د ژوند وروستۍ څو ورځې

خلک د ژوند په وروستيو څو ورځو کې مختلفې تجربې لري. دا ستونزمنه ده چې سړی ووايي چې دقيقاً څه به کېږي او کله يا څومره ژر به هر څه بدلېږي. تاسو به معمولاً په تدريجي ډول کمزوري کېږئ او لږ انرژي به لرئ. تاسو ښايي:

- په سختۍ سره شاوخوا وخوځېږئ
- د خوب له تخت څخه څوکۍ ته د پاڅېدو لپاره به مرستې ته اړتيا لرئ
- ډېره يا ټوله ورځ به د خوب په تخت باندې تېروئ
- شاوخوا د پېښېدونکو شيانو په اړه به خپله لېوالتيا له لاسه ورکوئ
- ډېر خوب به کوئ او کله چې ويښ ياست د نيم ويده احساس به کوئ
- د ګېچتوب او بې اطمينانۍ احساس به کوئ چې آيا خوب وينئ که.

**فزيکي پالنه**

تاسو به د هغو خلکو له خوا چې پالنه مو کوي ډېر مراقبت ته اړتيا ولرئ. که ستاسو کورنۍ ستاسو د مراقبت لپاره مرستې ته اړتيا لري، ستاسو نرس کولای شي دا درته تنظيم کړي.

که مو خوله وچه وي، د ناحيې نرس کولای شي ستاسو پالونکي ته وښيي چې څنګه ستاسو خوله په منظم ډول مرطوبه کړي. هغوی همدارنګه کولای شي ستاسو پر شونډو باندې د شونډو مرهم کېږدي ترڅو د وچېدو څخه يې مخنيوی وشي.

ستاسو پالونکي بايد په منظم ډول ستاسو پوست لوند کړي او موقعيت ته مو تغيير ورکړي. دا به مرسته وکړي چې ستاسو جلد له سوځېدو څخه وژغوري. نرس کولای شي ستاسو پالونکو ته وښيي چې څنګه تاسو هوسا کړي کله چې تاسو نشئ کولای وخوځېږئ.

ښايي ډېر وخت شتون ولري چې تاسو باید هیڅ شی نه وي ترسره کړي. تاسو کولای شئ په آرامۍ سره وغځېږئ او ستاسو خپلوان یا ملګري کولای شي له تاسو سره کښېني. هغوی ته وواياست چې آيا تاسو غواړئ خبرې وکړئ يا لږ وخت ته اړتيا لرئ چې خپله خبرې وکړئ. همدارنګه هغوی ته وواياست که چېرې غواړئ چې کوم څوک له تاسو سره همېشه پاتې شي. دا به ستاسو له پالونکو سره ستاسو د مراقبت په پلان کې مرسته وکړي.

**نبض نښاني**

که ستاسو نبض نښاني تغير کوي، ستاسو ډاکټر يا نرس ښايي ستاسو درمل بدل کړي. ځيني وختونه ستاسو نرس يا ستاسو ډاکټر ښايي ستاسو خيني درمل بند کړي. يا که چيرې په تاسو کې نوي نبض نښاني څرګندېږي، تاسو ښايي نوي درمل پيل کړئ.

که تاسو د ټابلېټو په تېرولو کې ستونزه لرئ، مايع درمل هم کېدی شي درکړل شي:

- د تزريق له لارې
- په جلد باندې د پچ په سرېښولو سره
- د پيکارۍ په واسطه چې له کوچني پمپ سره وصل شوې ده.

ځيني وختونه د شپې له خوا يا د اونۍ د پای د رخصتيو په ورځ په چټکۍ سره د درملو ترلاسه کول ستونزمن وي. ستاسو ډاکټر يا نرس ښايي د اړتيا په صورت کې ځيني درمل له تاسو سره پرېږدي. دغه درمل د عاجلو درملو په نامه يادېږي. کله چې تاسو په کور کې عاجل درمل لرئ، نرس يا ډاکټره به يې د اړتيا په صورت کې په سملاسي ډول تاسو ته درکړي.

په ځيني خلکو کې لاندې نبض نښاني موندل کېږي. ښايي تاسو د دغو نبض نښانو په هکله هيڅ پوه نشئ، څکه چې تاسو ته به خوب درځي.

**تنفسي تغيرات**

ځيني وختونه ستاسو په ستوني يا سينه کې مايعات راټولېږي. دا کېدی شي ستاسو د ساه اخيستنې غږ جګ کړي اما معمولاً دا به ستاسو لپاره د رنځ او کړاو سبب نه شي. ستاسو نرساني کولای شي له تاسو سره د مايعاتو د راټولېدو په مخنيوي کې مرسته وکړي يا د مرستې لپاره درمل درکړي.

**ناآرامي**

ځيني خلک ناآرامه کېږي. دا کېدی شي د بېلابېلو دلايلو له امله وي. تاسو کولای شئ درمل د تزريق يا د پيچکارۍ د پمپ له لارې وکاروئ ترڅو آرامه شئ او خوب وکړئ. له ځان سره د کورنۍ د نږدې غړي لرل کولای شي مرسته وکړي، يا يو مذهبي مشر چې له تاسو سره کښېني، له تاسو سره خبرې يا دعا وکړي.

**په مثانه او کولمو کې تغيرات**

تاسو ممکن ونشئ کولای چې مثانه يا کولمې مو کنټرول کړئ. دا طبيعي ده. ستاسو نرس به تاسو ته د خوب د تخت ځانګړې روجايي او پمپونه درکړي. هغوی ښايي د متيازو د وچولو لپاره ستاسو مثانې ته يو ټيوب داخل کړي.

ځيني وختونه ميتيازې له مسانې څخه نه وځي او تاسو نشئ کولای ميتيازې وکړئ. دا ډول حالت د ګېډې د شديد درد سبب کېږي (د نس درد) او ستاسو ګېډه (نس) به د ډېر کلکوالي او پړسوب احساس وکړي. که داسې څه پيښ شي، ستاسو پالونکی بايد په سملاسي توګه ستاسو له ډاکټر يا نرس سره اړيکه ونيسي او له هغوی څخه وغواړي چې ژر راشي. هغوی به د ميتيازو د ايستلو او درد د آرامه کولو لپاره د کاتيټر په نامه وسيله ستاسو مثانې ته دننه کړي.

**که ستاسو پالونکي ستاسو د هر ډول نبض نښانو په اړه انديښنه ولري، هغوی بايد ستاسو له عمومي ډاکټر يا نرس سره اړيکه ونيسي**

## مړینې ته نږدېتوب

د مړینې په اړه فکر کول ښايي ډېر ډاروونکي وي. په دې اړه اندېښنه کول چې څه به کېږي يوه عامه خبره ده. دا ښايي راحت کوونکی وي چې د مړينې پر مهال کوم څوک له ځان سره ولرئ. هر څوک کورنی او ملګري نه لري چې وکولای شي ورسره وي. اما تاسو ښايي وغواړئ چې يو مذهبي يا روحي مشاور درسره وي. خپلو پالونکو او خپلوانو ته ووايئ چې څه غواړئ ترڅو هغوی مطمئن شي چې دا کار وکړي.

#### معمولاً څه پېښېږي

د ډېرو خلکو لپاره، مړينه ډېره هوسا وي. تاسو به معمولاً په يوه ژور خوب ويده کېږي چې دا خوب دومره ژوريږي چې نور تاسو نشئ کولای راويښ شئ.

معمولاً تاسو په تدريجي ډول تاسو په بشپړه توګه بې هوښه کېږي. تاسو به په هېڅ صورت ويښ نه شئ اما لا هم تاسو به وکولای شئ چارچاپېره خلک ووينئ او غږ يې واورئ. ښايي داسې وخت راشي چې تاسو ويښ شئ او وکولای شئ خبرې وکړئ، او بيا بېرته بې هوښه شئ.

**که تاسو په کور کې ياست ستاسو پالونکی کولای شي ستاسو د ناحيې له نرس، متخصصې نرس يا عمومي ډاکټر سره 24 ساعته په ورځ کې، 7 ورځې په اونۍ کې، سره تماس ونيسي.**

کله چې تاسو مړينې ته نږدې کېږئ، ستاسو لاسونه، پښې او پوستکی ډېر يخېږي. ستاسو پوستکی ښايي ډېر حساس وي چې لمس کړل شي. ستاسو د نفس اخيستو بېلګې ښايي تغير وکړي. ښايي بېنظمه شي، او د هر نفس اخيستو ترمنځ اوږده او اوږده فاصله په منځ کې راشي. تاسو به د دغو بدلونونو په هکله پوه نشئ. د ډېرو خلکو لپاره، د ژوند وروستۍ شېبې ډېرې هوسا او آرامه وي. په پای کې به ستاسو بدن په بشپړ ډول آرام شي او ستاسو تنفس به ودرېږي.

## له مړينې وروسته

**دغه برخه ستاسو د خپلوانو يا پالونکو لپاره ليکل شوې ده، اما تاسو هم کولای شئ ويې لولئ.**

که ستاسو د کورنۍ غړی يا ملګری په روغتون يا آسايشګاه کې وفات شي، د نرسنګ کارمندان به نږدې شتون ولري. هغوی به تاسو ته لارښوونه وکړي چې په راتلونکو څو ساعتونو کې بايد کوم کارونه وشي.

که غواړئ تاسو کولای شئ له هغه کس سره چې مړ شوی دی وخت تېر کړئ. ډېر خلک غواړي مړي ته نږدې کېنېني، خبرې وکړي او لاسونه يې ونيسي. تاسو کولای شئ هلته له ځان سره بل خپلوان يا ملګری ولرئ چې مرسته مو وکړي. هغه څه وکړئ چې فکر کوئ سم دي.

تاسو وخت لرئ چې د خپل دود او رواج مطابق هغه کارونه وکړئ چې ستاسو لپاره مهم دي. دا به هم ښه وي چې په دې وخت کې مذهبي يا روحي مشر له ځان سره ولرئ.

#### عمومي ډاکټر به څه کوي

که چېرې کس په کور کې مړ شي او توقع هم همداسې وي، تاسو بايد په څو ساعتونو کې د هغوی عمومي ډاکټر يا د ټولنې نرس ته خبر ورکړئ. هغوی به څومره ژر چې امکان ولري کور ته راشي ترڅو مړينه تصديق کړي. که چېرې ستاسو د کورنۍ غړی يا ملګری د شپې په جريان کې يا د عمومي ډاکټر د عامو کاري ساعتونو څخه د باندې مړ شي، تاسو اړتيا نه لرئ تر راتلونکي سهار پورې له ډاکټر سره اړيکه ونيسئ، مګر دا چې تاسو وغواړئ.

که عمومي ډاکټر راشي، هغوی به تاسو ته د مړينې دتصديق سند درکړي. دغه سند د مړينې علت تاييدوي. هغوی به همدارنګه تاسو ته د معلوماتي خبرتيا په نامه فورمه هم درکړي. دغه فورمه تاسو ته ځرګندوي چې مړينه څنګه ثبت کړئ (لاندې يې وګورئ).

که نرس یا له کاري ساعتونو باندې ډاکټر راځي، هغوی به مړینه تایید کړي. اما تاسو باید د مړینې سند له عمومي ډاکټر څخه راټلونکي ورځ ترلاسه کړئ.

**د جنازې مشر به څه کوي**

کله چې مړینه تایید شوه، تاسو کولای شئ د جنازې له مشر (د له تدفین مسئول) سره اړیکه ونیسئ. هغوی په ورځ کې 24 ساعته موجود دي. هغوی به تاسو ته ووایي چې نور باید څه وکړئ. د جنازې د مشرانو تفصیلات ستاسو د مبایل په کتاب یا په انټرنېټ کې شتون لري. تاسو همدارنګه کولای شئ د جنازې د مشرانو له ملي ټولنې څخه معلومات ترلاسه کړئ(**https://nafd.org.uk**).

د جنازې مشر به هر څومره ژر چې تاسو یې وغواړئ راشي. هغوی به ستاسو د خپلوان یا ملګري له بدن څخه مراقبت وکړي. تاسو کولای شئ د جنازې مشر ته ووایاست چې څنګه خپل کارونه ترسره کړي او همدارنګه کولای شئ د هغوی دود او رواج په هکله ورته ووایاست چې هغوی یې باید تعقیب کړي.

که چېرې تاسو یا ستاسو کورنۍ او ملګري غواړي یو څه وخت د شخص له جسد سره یوازې تېر کړئ، د جنازې مشر ته ووایاست. ځیني خلک غواړي د خپلې کورنۍ یا ملګري له مړه شوي جسد څخه د جنازې تر وخته پورې مراقبت وکړي. د جنازې مشر کولای شي په دې برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي.

یا ښایي تاسو غوره وګڼئ چې د مړي جسد د جنازې د مشرد استراحت کلیسا ته انتقال کړئ. د جنازې مشر به له تاسو پوښتنه وکړي چې آیا غواړئ مړی شوی کس ته ځانګړې جامې/کفن ور واغوستل شي، لکه ستاسو د خوښې وړ جامې/کفن. تاسو کولای شئ که چېرې وغواړئ د کلیسا له چارواکو سره چې د مړي سره به وي ووینئ.

**د مړینې ثبتول**

مخکې له دې چې جنازه ترسره شي، تاسو باید خپل مړی دی د نوملیکنې په محلي دفتر کې ثبت کړئ. دغه کار باید په پنځو ورځو کې ترسره شي (یا په سکاټلنډ کې په اتو ورځو کې). تاسو کولای شئ د ثبت د خپل محلي دفتر په اړه معلومات د خپل تلفون په کتاب کې یا **www.gov.uk/register-a-death** وېب پاڼې ته په مراجعې سره ومومئ. یاد معلومات همدارنګه ښایي په هغه پاکټ باندې هم لیکل شوي وي چې د مړینې د تایید سند پکې دی. مخکې له دې چې مړی ثبت کړئ، د ثبت دفتر ته زنګ ووهئ. تاسو باید د ملاقات وخت واخلئ. تاسو همدارنګه کولای شئ د ډېرو معلوماتو لپاره **gov.uk/register-a-death** ته مراجعه وکړئ.

**د جنازې لپاره پلان جوړول**

ستاسو خپلوانو یا ملګرو ښایي تاسو ته ویلي وي چې هغوی د جنازې لپاره څه غواړي یا یې ښایي لیکلي وي. په ځینو کلتورونو یا مذاهبو کې، دا مهمه ده چې جنازه له مړینې وروسته ژر ترسره شي. که دې کار ته اړتیا وي، د جنازې مشر ته ووایاست.

د جنازې مشر به د جنازې په ترتیباتو کې له تاسو سره مرسته وکړي. تاسو همدارنګه کولای شئ له مذهبي یا روحي مشر څخه مرسته ترلاسه کړئ. که ستاسو ملګري یا خپلوان د خپلو هیلو په اړه معلومات پرېښښودل، د جنازې مشر به د جنازې د پلان مطابق تاسو ته لارښووني وکړي.

**غم به تاسو ته څه ډول احساس درکړي**

غم د نږدې خپلوان له مړینې وروسته طبیعي دی. تاسو ښایي مختلف عواطف احساس کړئ، چې په دې کې بې حسي، بې اعتقادي، غوسه او ځان ګنهکار ګڼل شامل دي. ستاسو ښایي مړی شوی کس ډېر ویادېږي یا ذهني فشار درته پیدا شي. که څه هم ښایي دغه احساسات په لومړیو کې ډېر پیاوړي وي، د وخت په تېرېدو سره په تدریجي ډول ښه کېږي.

له کورنۍ یا له ملګرو سره په دې هکله خبرې کول چې څنګه احساس کوئ ښایي مرسته وکړي. اما تاسو ممکن وغواړئ له داسې چا سره خبرې وکړئ چې نه يې پېژنئ. ځینې سازمانو شته چې داسې کسان لري چې تاسو غواړئ خبرې ورسره وکړئ، لکه د کروز بیریومېنټ د مراقبت نهاد (د مهمو سازمانونو لېست وروسته په دغو معلوماتو کې وګورئ). ستاسو عمومي ډاکټر کولای شي ملاتړ چمتو کړي او ښايي وکولای شي تاسو د ویر له محلي سلاکار سره په اړيکه کې کړي. له مشاور سره خبرې کول د ډېرو خلکو لپاره ګټور وي.

ډېری آسایشګاوې هم د هغو خلکو د کورنیو لپاره د ویر خدمات وړاندې کوي چې د دوی له خدماتو څخه يې استفاده کړې وي. ځینې له دغو نهادونو څخه ښايي د هغو خلکو لپاره هم خدمات وړاندې کړي چې د دوی خدمات يې نه وي کارولي.

که تاسو کوچني ماشومان یا ځوانکوټیان لرئ، هغوی به هم متفاوت عواطف ولري. دغه عواطف ښايي د هغوی په چلند باندې اغېز وکړي. ډېر داسې سازمانونه شتون لري چې کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي چې له خپلو ماشومانو څخه په ملاتړ وکړئ، لکه وینسټن ویش (**www.winstonswish.org**) (Winston's Wish).
ځینې آسایشګاوې له ښوونځیو سره کار کوي او همدارنګه بېلابېل خدماتو وړاندې کوي.

## د مهمو سازمانونو د اړيکو معلومات

**د ژوند په پای کې مراقبت:**

### Marie Curie

**تلفون** 0800 090 2309 (له دوشنبه تر جمعې، د سهار له 8 بجو د ماښام تر 6 بجو پورې، شنبه، د غرمې له 11 بجو د مازدیګر تر 5 بجو پورې)
**برېښنالک** supporter.relations@mariecurie.org.uk
**www.mariecurie.org.uk**
د Marie Curie نرسانې د هغو خلکو لپاره وړیا مراقبت چمتو کوي چې د ژوند د پای شېبو ته رسېږي. هغوی له تاسو څخه په کور یا آسایشګاه کې مراقبت کوي. هغوی د شپې له خوا هم کولای شي مراقبت وړاندې کړي.

**د مشورې د ورکړې او عاطفي ملاتړ:**

**د مشورې او سایکوتراپۍ لپاره د برتانې اتحادیه**
**تلفون** 01455 883 300
**برېښنالک** bacp@bacp.co.uk
www.bacp.co.uk
تاسو کولای شئ په انټرنېټ باندې د مشاور پلټنه وکړئ او د تېراپۍ په هکله او دا چې څنګه کار کوي ولولئ.

**د پالونکو لپاره ملاتړ:**

**د برتانیې پالونکي**
**تلفون (انګلستان، سکاټلنډ، ویلز)** 0808 808 7777
**تلفون (شمالي آیرلنډ)** 028 9043 9843
(دوشنبه ورځو او سه شنبه ورځو باندې د سهار له 10 بجو د مازدیګر تر 4 بجو پورې)
**برېښنالیک** advice@carersuk.org
**www.carersuk.org**
د برېټانیا په کچه معلومات او ملاتړ وړاندې کړئ. هغوی کولای شي ستاسو په سیمه کې تاسو د ملاتړ له ګروپونو سره وصل کړي.

**هغه مهال ملاتړ کله چې څوک مړه کیږي:**

**د Cruse Bereavement مراقبت**
**تلفون 0808 808 1677** (دوشنبه او جمعه، د سهار له 9.30 بجو د مازدیګر تر 5 بجو پورې، له سه شنبه تر پنجشنبه، د سهار له 9:30 بجو د شپې تر 8 بجو پورې)
**بریښنالیک:**: helpline@cruse.org.uk

**www.cruse.org.uk**
په برېتانیا کې داسې ځانګې شتون لري چې تاسو کولای شئ که چیرې مو کوم څوک مړه شي ملاتړ ترلاسه کړئ. تاسو کولای شئ خپله محلي ځانګه په **www.cruse.org.uk/cruse-areas-and-branches** باندې ومومئ

**د وکیل موندل:**

**د انګلستان او ویلز لپاره د قانون ټولنه**
**تلفون** 020 7242 1222

**www.lawsociety.org.uk**
په انګلستان او ویلز کې له وکیلانو څخه استازیتوب کوي او کولای شي د وکیلانو معلومات چمتو کړي.

**د سکاټلنډ د قانون ټولنه**
**تلفون** 0131 226 7411

**www.lawscot.org.uk**
په سکاټلنډ کې له وکیلانو څخه استازیتوب کوي او کولای شي د وکیلانو معلومات چمتو کړي.

**د شمالي آیرلنډ د قانون ټولنه**
**تلفون** 028 9023 1614

**www.lawsoc-ni.org**
په شمالي آیرلنډ کې له وکیلانو څخه استازیتوب کوي او کولای شي د وکیلانو معلومات چمتو کړي.

## Macmillan څنګه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي

په Macmillan کې، موږ پوهیږو چې د سرطان تشخیص څنګه کولای شي په هر څه باندې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د مرستې لپاره یو.

**د Macmillan د ملاتړ مرکز تلفوني کرښه**
موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولای شئ له موږ سره په خپله ژبه باندې خبرې وکړئ. یوازې موږ ته په انګلیسي ژبه د هغې ژبې په هکله وواياست چې تاسو خبرې پرې کوئ. موږ کولای شو د طبي پوښتو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړو، د مالي مرسته په هکله معلومات درکړو، او که غواړئ له چا سره خبرې وکړئ، موږ ستاسو غوښتنو ته غوږ ونیسو. د تلفون وړیا او محرمه کرښه په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو د شپې تر 8 بجو پورې پرانیستې ده. موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ

**ویب چټ**
تاسو کولای شئ موږ ته د ویب چټ پیغام واستوئ او موږ ته ووایاست چې ژباړن ته اړتیا لرئ. موږ ته په انګلیسي کې د هغې ژبې په هکله ووایاست چې اړتیا ورته لرئ، او زموږ کس به له تاسو سره اړیکه ونیسي. په ' Chat to us' بټنه باندې کلیک وکړئ چې د ویب پاڼې په ټولو پاڼو باندې څرګندیږي. یا **macmillan.org.uk/talktous** ته لاړ شئ

**د Macmillan ویب پاڼه**
زموږ ویب پاڼه د سرطان په هکله په انګلیسي ژبه ډېر معلومات لري. همدارنګه په نورو ژبو باندې هم په **macmillan.org.uk/translations** کې معلومات شتون لري

موږ همدارنګه کولای شو یوازې ستاسو لپاره د ژباړې خدمات وړاندې کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** باندې برېښنالیک واستوئ.

**د معلوماتو مرکز**
زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تلفون په مرکزونو کې دي. د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زموږ یوه معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او مخامخ له یو چا سره خبرې وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز په **macmillan.org.uk/informationcentres** کې ومومئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د ملاتړ محلي ګروپونه**
د ملاتړ په ګروپ کې، تاسو کولا شئ له نورو هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. په خپله سیمه کې د ملاتړ د ګروپونو په هکله په **macmillan.org.uk/supportgroups** کې معلومات ولولئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د Macmillan آنلاین ټولنه**
تاسو همدارنګه کولای شئ په آنلاین ډول له نورو هغو خلکو سره چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي د **macmillan.org.uk/community** له لارې خبرې وکړئ چې تاسو کولای شئ د شپې یا ورځې په هر وخت کې لاسرسی ورته ولرئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو د پوسټونو له لارې معلومات ولولئ.

# د تورو لیست

| کلمه | په انګلیسي | په انګلیسي کې څنګه ویل کېږي | مانا |
|---|---|---|---|
| د استراحت کلیسا | Chapel of rest | چپیل اف ریسټ | هغه ځای چې د مړي جسد له جنازې مخکې هلته ساتل کېږي. |
| د ثبت دفتر | Register office | رجسټر آفس | د محلي حکومت ودانۍ چې هلته تولد، ودونه او مړیني ثبت کېږي. |
| د جنازې مشر | Funeral director | فیونرل ډایرېکټر | هغه شخص چې د جنازې ترتیبات نیسي. هغوی همدارنګه له جنازې مخکې له مړي څخه مراقبت کوي او د کورنۍ لپاره ملاتړ چمتو کوي. |
| سلاکار | Counsellor | کونسلر | یو متخصص دی چې له هغو خلکو سره د مرستې لپاره روزل شوی دی چې د هغوی د له عواطفو او شخصي ستونزو سره مبارزه وکړي. |
| غم | Grief | ګریف | غم هغه احساس ته وایي چې تاسو یې د یو چا له مړیني وروسته لرئ. دا د هر چا لپاره فرق کوي. |
| فلوراید | Fluoride | فلوراید | یو طبیعي منرال دی چې د غاښنو په ډېرو کریمو کې کارول کېږي. |
| قبضیت | Constipation | کانستیپیشن | کله چې رفع حاجت ستونزمن یا دردمن کېږي. تاسو به د معمول په اندازه د رفع حاجت لپاره نه ځئ، او ستاسو غایطه مواد بنایي کلک او درانده وي. |
| کاتېټر | Catheter | کېټیټر | یو نری پلاستیک تیوب دی چې ستاسو د میتیازو له سوري څخه راوتلی دی چې له لارې یې (غایطه مواد) تخلیه کوئ. دا هلته اچول کېږي چې تاسو ته تشناب ته له تګ وروسته وکولای شئ غتې میتیازې وکړئ. |
| کولمه | Bowel | باؤل | ستاسو په بدن کې یو اوږد تیوب چې له تاسو سره د خوړو په هضمولو کې مرسته کوي. |
| مثانه | Bladder | بلېډر | ستاسو په بدن کې داسې یو غړی دی چې میتیازې ذخیره کوي تر هغې چې تاسو تشناب ته لاړ شئ. |
| وکیل | Solicitor | سالیسېټر | یو قانوني مسلکي کس چې له خلکو سره د وصیت په لیکلو کې مرسته کوي. |

## ستاسو په ژبه کښې نور معلومات

مونږ د لاندې موضوعاتو په هکله ستاسو په ژبه کې معلومات لرو:

| **د سرطان ډولونه** | **له سرطان سره ژوند کول** |
| --- | --- |
| • د سینې سرطان<br>• د لویو کولمو سرطان<br>• د سږي سرطان<br>• د پروستات سرطان<br>**درملنې**<br>• کیموتراپي<br>• رادیوتراپي<br>• جراحي عملیات | • سرطان او کرونا وایروس<br>• د مزایاوو غوښتنه کله چې سرطان لرئ<br>• د خوړلو ستونزې او سرطان<br>• د ژوند پای<br>• سالم خوراک کول<br>• د مصارفو مرسته کله چې سرطان لرئ<br>• که ستاسو سرطان تشخیص شوی وی - لنډه لارښوونه<br>• سپیسس او سرطان<br>• د سرطان د درملنې جانبي عوارض<br>• ستړیا (ستوماني) او سرطان |

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، **macmillan.org.uk/translations** ته مراجعه وکړئ

## حوالې او مننه

دغه معلومات د Macmillan د سرطان د ملاتړ د سرطان د معلوماتي پراختیا د ټیم په واسطه لیکل شوي دي. دا د ژباړې د کمپنۍ په واسطه ژباړل شوی دی.

شامل شوي معلومات د Macmillan د کتابګوټي په اساس دي **د ژوند د پای لپاره لارښود**. موږ کولای شو تاسو ته یوه کاپي واستوو، اما بشپړ کتابګوټی یوازې په انګلیسي ژبه شتون لري.

دغه معلومات د ارشد طبي کره کتونکي ډاکټر سارا بوت لکچر ورکوونکي، د کامبرېج او ایمیریټوس پوهنتون په تسکیني درملو کې مشاور؛ او ډاکټر وېو لوکاس، په تسکیني درملو کې مشاور.

له هغو خلکو څخه ډېره مننه چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي او د دغو معلوماتو بیاکتنه یې کړې ده.

د هغو سرچینو په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره چې موږ یې زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو په اساس دي.
له لارې **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** کاروو، په مهربانۍ سره له موږ سره د اړیکه ونیسئ

| |
|---|
| محتوی بیا کتل شوې: 2019 |
| راتلونکي پلان شوي بیاکتنه: 2022 |

MAC14363 _Pashto

موږ هره هڅه کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې موږ یې چمتو کوو دقیق او وروستي معلومات دي اما دا باید ستاسو د وضعیت سره سم د متخصصي مسلکي مشورې د بدیل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځایه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، Macmillan په دې خپرونه کې د هر هغه معلوماتو د کارولو یا د دریمې ډلې د معلوماتو یا د وېب پاڼې د شاملو معلومات یا راجع شویو معلوماتو مسؤلیت نه مني.
د Macmillan سرطان ملاتړ2022، په انګلستان او ویلز (261017)، سکاټلینډ (SC039907) او آئل آف مین (604) کې ثبت شوې خیریه موسسه. همداراز په شمالی ایرلنډ کې فعالیت کوي. د ضمانت په واسطه محدوده شوې کمپني، چې په انګلستان او وېلز کې په 2400969 شمېره ثبت شوې ده. آئېلز آف من کمپني نمبر 4694F. ثبت شوی دفتر: 89 7 Albert Embankment, London SE1.

Trusted Information Creator
Patient Information Forum

End of life: Pashto

# End of life

This information is about what happens towards the end of life and how to plan for it.

Any words that are underlined are explained in the word list at the end. The word list also includes how to say the words in English.

